مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۷/۰۲

# غـزل

لیکل شوی د تـقـدیـر پـه ستر قلم زه یم جانانه!
چې مې خدای لپاره وژني هغه هم زه یم جانانه!

ای قاتله یاره! وایـه؛ وایه خومره به مې مړ کړې!؟
اروا هم زه یم جانانه! جسم هم زه یم جانانه!

تا لـه اره پخپل ذات کې عجیبه یم رانغاړلی
زه خو سر تـر پـایـه ستا یم ؛ او تـه هم زه یم جانانه!

د یوې رڼا تـولید یو؛ کالبوتونه مو بدل دي
زه صنم کې ادغام شوی؛ صنم هم زه یم جانانه

زه تولید د کارخانې؛ د معجزو یمه باوره!
دا خوښې پخپله زه یم او غم هم زه یم جانانه!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ